Vol. 3 No. 4 (2025)
ISSN 3007-3170(O)
ISSN :3007-3162(P)
Social Sciences & Humanity Research Review

# Picturesque imagery in Andeh shamsul Qamar's poetry

## د اندېش شمس القمر په شاعرۍ کښې محاکات نګاري

**Mr. Muhamad Arif[1], Dr. Shukria Qadir[2]**

[1]M.Phil Scholar, Pashto Department Abdul Wali Khan, University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa

[2]Assistant Professor, Pashto Department Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa

**ARTICLE INFO**

**Keywords:**
Picturesque Imagery, Symbolic Language, Aesthetics, Sensibility,Vivid Images.

**Corresponding Author:**
**Mr. Muhamad Arif,**
M.Phil Scholar, Pashto Department Abdul Wali Khan, University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa

**ABSTRACT**

Picturesque is imagery in the ghazals of Andesh Shamul Qamar emerges as a defining poetic device through which symbolic language and thematic depth are intricately intertwined. The aesthetic harmony between meaning and word-choice reveals a refined sensibility where imagery serves not merely as decorative expression but as a structural force shaping poetic thought. Qamar's ghazals employ vivid visual and sensory images, enriched by carefully crafted similes and metaphors, to articulate complex emotional states and philosophical reflections. Symbolic motifs drawn from nature, memory, and cultural experience deepen the thematic resonance of love, separation, longing, and inner consciousness. Through this layered use of imagery, language attains a pictorial quality that transforms abstract emotions into tangible poetic scenes, highlighting the poet's mastery in fusing symbolism with aesthetic expression and reinforcing the enduring vitality of the ghazal form.

د اندېش شمس القمرپه غزل کښې محاکات نګاري :

د شعر د ښکلا او کمال ته رسولو دپاره څو څو محرکات ضروري دي ،ځکه چې ډېر شاعران غواړي چې زما شعر زما غزل دې داسې ښائسته وي چې د هرچا زړۀ ته پرېوځي۔او هر څوک يې خوښوي۔خو د دغې يو څومحرکاتو نه بغېر دشعر د غزل ښکلا خامخا نيمګړې وي۔پہ دغه محرکاتو کښې يو محرک محاکات نګاري دے۔او د اندېش شمس القمر غزل چې کمال غزل دے نو اندېش ښۀ محاکات نګاري کړې ده ډېره او ډېره غوره يې کړې ده د دې محرک يې پوره خيال ساتلے دے۔څۀ شعوري او څۀ ځاے کښې په غېر شعوري توګه۔

لازم ګڼم چې اول محاکات او محاکات نګاري وپېژنو۔يوې اردولغت د محاکات معنې ليکلي دي :

"بیان میں کسی واقعے ، منظر یا امرکی تصویر کشی یامنظر کشی کرنا ، شاعری میں واقعات کی صورت گری ،امیجری۔"[۱]

او بیا یې د یوې تاریخي اومستندې جملې ترلې مثال دا ورکړے دے چې:

" ان کی شاعری میں فکری عناصر کی بجائے محاکات کا رنگ پیدا ہوا ہے۔"[۲]

پروفیسرفضل میرخټک په "فضلیات" کښې د محاکات بنۀ وضاحت کړے دے :

" محاکات ( Picturesque imagery) (ع + مونث) د یوشي نقل کول ،هر کله چې یو شاعر خپل تجربات دبیان محض په ځاے د لفظي تصویرونو په صورت کښې پېش کوي نو دې ته امېجري وئیلے شي۔ اردوکښې د دې متبادل لفظ محاکات دےشبلي نغماني هم دامیج دپاره د محاکات لفظ راوړے دے۔ د هغۀ په نزد محاکات ته نزدې شے مصوري ده۔ محض تصویر هغه څۀ نۀشي بیانولے کوم څۀ چې محاکات بیانوي۔ بیا کوم ځاےته چې دمحاکات لاس رسي ۔لکه خیالات ،جذبات او کېفیات د تصویر ددائرې نه بهر دي۔ "[۳]

د محاکات یا محاکات نګارۍ په حقله"ادبي اصطلاحات " کښې تکړه پروفېسر انور جمال لیکلي دي چې :

" محاکات ایک شعری اصطلاح ہے"تصویر " رنگ و نقش کی دنیا میں اور "محاکات " صوت و حرف کرجہاں میں ایک ہی نوع کی چیزیں ہیں۔ کسی چیز ،حالت یاکیفیت کااس طرح بیان کہ اس کی تصویر سننے ، پڑھنے والے کی آنکھوں میں پھر جائے۔ محاکات ہے۔ مصور بھی بعض اوقات ایسی تصویر بنادیتا ہے۔کہ اس کے جذبات وکیفیات جھلکتے ہیں۔ مانی نے انگوروں کا ایک گچھا اس فنکاری سے ننایا تھا کہ طوط اور چڑیا اس پر چونچیں مارتے تھے۔ لیکن محاکات تصویر سےہزاروں قدم آگے کی چیز ہے۔" غم ، حیرت ، خوشی ، غصہ ، نفرت ، استعجاب ، تفکر ، بے تابی ،جیسے مجرد جذبات کو لفظوں کے ذریعے تصور بنا دینا " محاکاتی قوت"کاکام ہے " محاکات کو منظر کشی یا امیجری بھی کہہ سکتے ہیں۔ شبلی کاخیال ہے کہ شاعری دو چیزوں کے مجموعے کا نام ہے۔ " تخیل اورمحاکات " [۴]

الغرض محاکات نګاري د یو شاعر هغه هنر دے چې په شعر کښې خبره په داسې انداز خلقو ته وروښائي، ښکاره کړي لکه څنګه چې یو ویو یا منظر بنده په خپلو غړېدلو سترګو وینې او داد یو قابل او تجربه کار شاعر کمال او هنر وي ، ګنې نه یې شي کولے۔ او دا هنر یعنې د محاکات نګارۍ کاریګري د اندېش شمس القمر په کتاب "پېمانه د غزل " کښې دومره ډېره ده۔ واضحه ده چې د دۀ غزل ته یې یو نوے اوکامیاب روح بخښلے دے او دا د محاکات نګارۍ فن د اندېش نه علاوه څو نورو شاعرانو ته هم ترلاسه دے لکه د رحمت شاه سائل د شاعرۍ نه دا شعر د نمونې په توګه ، او یاده دې وي چې رحمت شاه سائل د اندېش شمس القمرډېر مداح دے۔

شــــــپه د صـــــــحرا ده خـــــو زمـــــا نظـــــره هغـــــه لـــــــري

چـــــې د چـــــا کـــــېده ده کـــــۀ شـــــمعې پـــــه مـــــزار ښکاري(ســـــائل)

اوس د اندېش شمس القمر د غزل نه د محاکات نګارۍ یو څونمونې راخلم :

دغـــــــه حـــــالات ، دا زنـــــــدګي ، دغـــــــه عـــــــالم ، داســـــــړک

ولاړ یــــــــم ، خلـــــــــي د روانــــــــو مقبروشـــــــمارم[۵]

دغه شعر د محاکات نګارۍ داسې یوه نمونه ده. لکه څنګه چې په تېرو کرښو کښې تاریخي خبره وشوه چې "مانی نے انگوروں کا ایک گچھا اس فنکاری سے بنایا تھا کہ طوطے اور چڑیا اس پر چونچیں مارتے تھے۔"

زۀ لږ غوندې کوشش کوم چې دغه تصویر کشي دلته واضحه کړم.

اندېش د ژوند په لار څنګ ته ولاړ دے او دغه لار ته یې سترګې څلور کړې دي. د زړۀ له کومې ورته ګوري څارنه کوي، د مشاهداتي قوت سمندر یې په موجونو دے، د دنیاعالم په دغه لار تېرېږي ،ژوند کوي نه خو ژوند تېروي. لکه هغه یو شعر دے چې:

چــــــې د ژونـــــــد پـــــــه قـــــــدر پوهـــــــه نـــــــۀ دے او ژونـــــــد کـــــــړي

خـــــــرۀ لګیـــــــا دےد بـــــــاغچې ښـــــــکلے شـــــــینکے خوري(شـــــــائق)

ژوند چې څنګه پکار دے هغسې یې چرې نۀکوي چې هرکله دغه حالات او دا زندګي وي لکه دا چې زۀ یې د ژوند د لارې له څنګه څارم نو داسې راته لګي لکه دا خلق څلي دي او دا مقبرې رواني دي. اندېش په دغه خپل محاکات نګارۍ هنر سره زمونږ سترګې او پام دغه عجیبه منظر ته په ډېر هنر راګرځوي او دغه تصویر ته مو ګوته په خلۀ کوي. او هم دا د اندېش شمس القمر د غزل د خوبیو نه یوه ده. او ډېر واضح تصویر دے چې د خپل خیال یې جوړ کړے او رابخښلے یې دے.

د ســـــــــــــپرلي پـــــــــــــه څنـــــــــــــه ســـــــــــــترګه

د جانـــــــــــــان او د ګـــــــــــــل شـــــــــــــــــــرد دے[٦]

د اندېش شمس القمرد محاکات نګارۍ دا هنرد کتلو اوربېدلو دے. څۀ ښائسته تصویر دے خو د سترګورو دپاره. څکه چې که نابینا ته نرمهم مخې ته کېښودے شي نو څۀ. اندېش د خپل جانانه خیال دومره ښکلے جوړ کړے تصویر مونږ ته وړاندې کړے دے چې هم دغه منظر یکدم زمونږ مخې ته راځي.

په دې تصویر کښې هم اندېش د یو څارن وال ، د یو تماشبین په حېثیت خپل ځان راښائي او بیا هم په دغه تصویر کښې مونږ ته بلکې دنیا ته خپل لیدلي کتلي وائي. دا تصویر ،دا د محاکات نګارۍ نمونه مونږ ته راښائي چې اندېش شمس القمر تماشه کوي چې یوه خوا ګل او بل خوا جانان یو بل سره په دې خبره په شر دي چې دغه سپرلے دے ګل وائي چې د دې سپرلي څنه سترګه یعني سینګار به زۀ کوم څکه چې زۀ ګل یم سپرلے به په ما ښائسته کېږي نو بلې خوا جانان وائي چې اے ګله! ستا ښائست زما دښائست مقابله کښې هېڅ دے د سپرلي سینګار به زۀ جوړېږم. بیا ورته ګل غبرګوي چې نه ، زۀ مدام د خلقو په زړونو کښې ناست یم خلق او شاعران زما د حسن ثناخوان دي. سپرلے به زۀ سینګاروم. جانان ورته غبرګوي چې پېغلې د شباب زمانه دهر اهل او ددې قدر پوهه خلقو ته د دنیا د هر ښائست نه یو په زر او لاد دې نه هم زیاته ده. اے ګله! څۀ چرته خپل کار کوه دا سپرلے به زۀ سینګاروم لکه هغه شائق چې زما په حقله ګواهي ورکړې ده چې

اننګــــــــــــي دې د ګلوبــــــــــــو پشــــــــــــان نــــــــــــۀ دي

ګلابونــــــــه دې پــــــــه شــــــــان د اننګــــــــو دي(ناچاپــــــــه غــــــــزل)

د اندېش په دې جوړ کړي تصوير کښې د دهٔ جانان برے موندونکے ليدلے شي. او هم دا د اندېش د محاکات نګارۍ يوه زبردسته نمونه ده:

چپ شه ، ستا ښائست خو د زور کلے وۀ
ډېر کۀ مې ترې ځان ساتۀ خو ګېر شومه[7]

اندېش او د دهٔ محبوب مخ په ناست دي ، د دواړو سره محفل جوړ دے دواړو خپلو کښې صرف او صرف د رومانوي دائرې د ننه بحث کوي د محاکات نګارۍ په لحاظ دا تصوير مونږ ته دا خبره رښوي چې محبوب يو څۀ وائي او اندېش يې جوابوي. تر دې چې اندېش ورته دغه د مينې ډک بحث کښې وائي چې :
چپ شه ! چپ ، ستا ښائست خو د زور ، کلے وۀ دا کلے خو ما نۀ کوۀ هېڅ کله مې نۀ کوۀ خو مجبورا و ستا د حسن دام کښې ګېر شومه. ګنه ما خو ترې ډېر ځان ساتۀ.

د مينې سوز او ستا د ياد د سمندر غاړه ده
زۀ به قلار څنګه د خپل زړۀ د ستاره شمه[8]

دا شعر د محاکات نګارۍ يوه ښکلې او نسبتا ډېره واضحه نمونه ده. اندېش د دې منظر داسې تصوير جوړ کړے دے چې جذبات او د دې جذباتو شدت او د زړۀ ناقلارې يې پکښې په شوخ رنګ ، رنګېدلے ده.
دې تصوير کښې د سمندر غاړه ده ، اندېش شمس القمر ځان سره د مينې سوز ملګرے ناست دے ، دا غاړه د ياد د سمندر غاړه ده. او د اندېش زړۀ لکه د سيتار غږېږي. او اندېش د دې نه قلارېدونکے نۀ ښکاري. او د مينې د چپو سره مخ دے.

انجمن د ستارو او سپوږمۍ خور شو
خو لا سترګې د اشنا په انتظار دي[9]

اندېش مونږ ته په دې تصوير کښې راښائي چې شپه ده او آخري پار هم په تېرېدو دے او اندېش سره خپل محبوب د وصل يو کلک لوظ کړے دے. د اندېش د خپل محبوب په لفظ کلک باور دے نو ځکه د محبوب ته سترګې په لار دے اګر چې د ستورو او سپوږمۍ چې کوم محفل وۀ هغه هم خور شو.

څۀ خبر دے ، د جنون د محبته!
د فرهاد په سادګۍ پورې غر خاندي[10]

د خپل تلميحي شعر خبره اندېش شمس القمر د محاکات نګارۍ په هنر څۀ په دا ډول تصوير کړې ده چې :
تېشې په لاس غر کښې ، په دې غرض چې د دغه غر شاته چې تصوير کښې کوم نهر ليدلے کېږي هغه نهر د غر کنستلو نه پس د غر نه دېخوا راواړوي چې د شيرينۍ د ګلو باغ پرې خړوب کړي. فرهاد د محبت جنون په مخه اخستے دے او دا احساس فقط فرهاد ته کېدلے شي. او پاتې شو غر نو دغه خو د احساس نه لاس وينځلے په ځاے جه شوے ولاړ دے. دغه غر ته د فرهاد په کنسته خندا ورځي چې دا فرهاد

ځۀ د عقل نه خلاص دے چې ما کني. حالانکه دې خو په دغه تېشي ما دۀ په تمام عمر کښې نۀ شي کنستلے چې نهر په ترې راواړوي.
دا غر ، دا فرهاد د اودو کم عقل ګڼي. او ور پورې خاندي په دې تصوير کښې اندېش يوه خبره راته د تصوير په ژبه دا هم کوي چې افسوس ! چې دې غرد محبت جنون محسولے شوې.

دا ژمـــــــــے ، تـــــــوره شـــــــپه ، کنګـــــــــل پرتـــــــــه زنـــــــــدګاني
احســــــاس کــــــۀ مــــــې بــــــوګنېږي، هــــــم وباســـــــي ســــــتوماني[۱۱]

اندېش خپل احساس تصوير کړے دے او په داسې حال او ماحول کښې يې ښودلے دے چې د يو ګنبد و سره سره ستومانې ويستونکے په نظر راځي. په تصوير کښې نوره منظر کشي ځۀ په دې ډول ده چې يخ ژمي موسم دے تکه توره نيمه شپه ده د زندګۍ په مخ کنګل پروت دے. په داسې حال کښې انساني فطرت دے چې يو بوګنبدونکے کېږي. د اندېش دغه احساس ځان له د سوچه مينې په ډاډ تسلي ورکوي او ستومانې وباسي.

خـــــــــــزان دے د راتلـــــــــــونکي پســـــــــــرلي د قـــــــــــدم دوړه
راوګرځـــــــــــــه ، دګــــــــــل د ديـــــــــــدنونو ارمــــــــــــان[۱۲]

د دې شعر په ذريعه خپله خبره د محاکات نګارۍ په هنر اندېش داسې تصوير کړې ده چې :
" يو تن د سپرلي د نۀ راتللو د نااميدۍ له سببه واپس روان دے اندېش اواز ورکوي چې اے د سپرلي د ديدن ارماني ! تۀ ودرېږه ، راستون شه ګوره! تۀ د دې موجوده خزان نه ما ويرېږه او نااميده کېږه مه. او چې هر کله د قدم دوړې خېژي نو بيا د سپرلي په راتلو کښې وخت نشته. دا په اصل کښې علامتي شعر هم دے خلقو ته عنقريب د ښې ورځې د نصيب کېدلو زېرے او اميد دے.
په دې لاندې څو شعرونو کښې د محاکات نګارۍ په هنر جوړولو تصويرونو او منظر کشۍ ته ځېرېږو :

نــــــن خـــــــو ځــــــان درنــــــــه ورک نــــــۀ دے ، ښــــــکلي يـــــــاره!
ســـــــتا پـــــــه ســـــــترګو کښـــــــې د مينـــــــې خبـــــــر خانـــــــدي[۱۳]

چـــــــپ چـــــــپ شـــــــه ، پـــــــه زړۀ هـــــــېڅ ځـــــــۀ اثـــــــر نـــــــۀ کـــــــا
اے ناصـــــــحه! ډېـــــــر غمونـــــــه پـــــــرې امبـــــــار دي[۱۴]

خـــــــدا ے زده ، کــــــوم پـــــــړاو کښـــــــې د ارمــــــــان يمــــــــه
ســــــــتا د يـــــــــاد پـــــــــه دوړو کښـــــــــې روان يمـــــــــه[۱۵]

يـــــــه فرهـــــــاده ! يـــــــه مجنونـــــــه! پوهـــــــه مـــــــې کـــــــړئ
څنګـــــــه يوســـــــم؟ چرتـــــــه يوســـــــم ؟ نـــــــاز د ګـــــــل[۱۶]

نــــــــۀ تــــــــرې ســــــــتنبدے او نــــــــۀ ورتلــــــــے شــــــــمه

څه قیامت ولاړ د مینې ورکښې دے[17]

اشنا! د مینې آئینه په لاس کښې
ته څرته ودرېږه د ځان په خوا کښې[101]

وګوره! د ګل په سیوري ناست دے څوک
څا به په سکروټو دا سفر کوۀ[18]

ته هم د یو ستوري غوندې وخانده
یه ظالمه! ما درته اسمان ووې[19]

خوشې لارې ، سار ګودر دے
دا د کوم ملک مازیګر دے[20]

زۀ یم او شمع ستا د مینې په لاس
ستا په ارمان ، وختونه ډېر ښۀ تېر شو[21]

ستا د عنایت د یو نظر ارمان
لاس کښې مې رېښې د ګرېوان وخاندي[22]

زۀ د ګلدشتو تماشې نۀ کوم
د خپل ببېتک د شاړ ګلدان په خوا کښې[23]

غرض دا دے چې د اندېش شمس القمر په غزلونو کښې انځوریزه ښکلا د شاعر د فکري او ژبني مهارت څرګندونه کوي. چېرته چې د معنا او کلمو جمالیات په بشپړه توګه راڅرګندېږي. د دۀ په شاعرۍ کښې انځوریزه ژبه ، تشبیهات ، استعارات او علامتونه یواځې د حسن او ښکلا وسیلې نه دي. بلکې د احساساتو او فکري ژوروالي د څرګندولو بنیادي لارې ګرځېدلې دي. اندېش ژوند ، مینه و حسن ، داخلي و خارجي احساسات وتجربات ، او د هجر و وصل کېفیتونه د داسې ژوندي انځورونو له لارې وړاندې کوي. چې لوستونکي او اورېدونکي په زړه او په ځان داسې اثر کوي چې داسې به د بل چا شاعر په کلام کښې ډېر کم په نظر راځي. د کلاسیک غزل دود ته په وفادار پاتې کېدو سره ، هغه د تخیل نوې رنګینۍ ور زیاتوي او انځوریزې شاعرۍ ته نوي فکري او جمالیاتي ارزښت وربخښي. چې د هغه غزلونه په جدید ادبي بهیر کښې ځانګړې مقام تر لاسه کوي.

## حوالي


۱ اردو لغت (انټرنیټ) انټرنیشنل

۲ اردو لغت (انټرنیټ) انټرنیشنل

۳ فضل میر،ختک،پروفیسر ، فضلیات ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء،مخونه : ۴۲۷-۴۲۸

۴ انور جمال،پروفیسر ،ادبی اصطلاحات ،پاور پرنٹرز پشاور ،جولائی 2023ء ،صفحه : ۱۵۸

۵ اندېش ، شمس القمر،پېمانه د غزل ،ترتیب او سمون حضرت زېبرزېبر ،عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور،۲۰۱۵ء ،مخ: ۲۴۰

۶ هم دغه اثر ،مخ : ۲۰۱

۷ هم دغه اثر ،مخ : ۲۴۲

۸ هم دغه اثر ،مخ : ۲۴۵

۹ هم دغه اثر ،مخ : ۲۵۳

۱۰ هم دغه اثر ،مخ : ۲۴۱

۱۱ هم دغه اثر ،مخ : ۲۳۳

۱۲ هم دغه اثر ،مخ : ۲۳۳

۱۳ هم دغه اثر ،مخ : ۲۴۱

۱۴ هم دغه اثر ،مخ : ۲۵۲

۱۵ هم دغه اثر ،مخ : ۲۹۹

۱۶ هم دغه اثر ،مخ : ۲۲۴

۱۷ هم دغه اثر ،مخ : ۲۲۳

۱۸ هم دغه اثر ،مخ : ۲۱۴

۱۹ هم دغه اثر ،مخ : ۲۰۹

۲۰ هم دغه اثر ،مخ : ۲۰۷

۲۱ هم دغه اثر ،مخ : ۲۰۰

۲۲ هم دغه اثر ،مخ : ۱۸۸

۲۳ هم دغه اثر ،مخ : ۲۰۴